## مطبوعاتي اعلامیه

په سېئون کې د یمني پارلمان غونډه او ترې د بریتانیا ملاتړ؛ حوثیانو ته سیاسي ضربه ده

تر څلورو کلونو څنډ وروسته، بریتانیا د سیئون په ښار کې د یمني پارلمان د بیا راغونډېلو هرکلی وکړ. دا پارلمان په سنا کې د حوثیانو د کابو کولو له امله تړل شوی و، بریتانیا د پارلمان د ویاند او معاوینینو ټاکل مهم او مثبت قدم بولي. په یمن کې د بریتانیا سفیر مایکل آرون، وروسته له اوږدې مودې په سیئون کې د پارلمان غونډه یوه لویه بریا بولي. د منځني ختیځ له مخې مایکل آرون وایي: «پارلمان د دولتي بنسټونو یو مهم بنسټ دی، زه فکر کوم چې دا غونډه ډېره مهمه ده، د ولسمشر په توګه د سلطان البورکاني او د هغوی درې معاوینینو ټاکنه یوه ستره پرېکړه ده. دا یو مثبت قدم دی.» د حوثیانو ویاند او د خبرو اترو په غونډه کې د حوثي ډلې مشر محمد عبدالسلام په لوړ اواز ویل چې د ملګرو ملتونو د یو خنثی منځګړي په توګه پاتې شوی، خو بیا هم د خپل هېواد موضوع د ملګرو ملتونو په اډانه کې پلې کوي. د یمن لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي په یو لیک سره ولسمشر هادي او د پارلمان غړو ته د پارلماني غونډې له امله، چې د دې هېواد په ختیځ ښار سیئون کې تر سره شوه مبارکي ویلي. په دې کار سره د حوثیانو غوسه را وپارېده او په هغه یې تور پورې کړ، چې غواړي د خپل هېواد پلان د ملګرو ملتونو په اډانه کې پلی کړي. د امریکا متحده ایالاتو هم د پارلمان د غونډې ملاتړ کړی، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند، مورګان اورتاګوس په هغې اعلامیه کې چې تېره ورځ خپره شوه ویلي؛ د امریکا متحده ایالات د یمن د پارلمان غړو ته د غونډې له امله، چې له ۲۰۱۴م راهیسې لومړی غونډه وه مبارکي وایي. د پارلمان دا غونډه د بریا لپاره یو مهم قدم دی او په دې سره د یمن مشروع حکومت ته ځواکمنتیا ور په برخه کوي. په ورته وخت کې مورګان اورتاګوس له یمني پارلمان سره د امریکا متحده ایالاتو د ادرې پوره ملاتړ اعلان کړ. دې د یمن د حکومت دا ګام د یمن حکومت ته د مشروعیت ورکولو لپاره یو اړین ګام وباله او د ملي خبرو اترو د کنفرانس د پایلو نتیجه یې وبلله او دا سولییز بهیر یې د خلیج د همکارۍ شورا، یو نوښت وګاڼه.

بريتانيا خپله وروستۍ سياسي پانګه، چې حثيانو پرې باور درلود واړوه، د يمن  په پلازمينه سنا کې پارلمان ته د بريتانيا تر کنترول لاندې مشروعيت ورکول او په داسې حال کې چې په سئيون کې پارلماني غونډه تر سره کيږي، دوی د پارلمان تشې څوکۍ په خپله خوښه ډکوي. حوثيان، بريتانيا د خپل لومړي دښمن په توګه بولي او د ملګرو ملتونو استازی په طرفدارۍ تورنوي او په دوی تور لګوي، چې بريتانيا غواړي د ملګرو ملتونو پر مټ د خپل هېواد پلان پلی کړي. بريتانيا د ټرمپ د ادارې له هغې پاليسۍ څخه ګټه پورته کړه، چې له مخې يې په سيمه کې د ايران رول کم او سپاه پاسداران يې د ترهګرۍ په تور ليست کې شامل کړل او سعودي عربستان ته يې په سيمه کې، په ځانګړې توګه په يمن کې د رول درلودلو برخه پراخه کړه، په دې ډول ايران اړ کيږي، چې پر حوثيانو فشار راوړي، تر څو په سيمه کې د امريکا متحده ياﻻتو له پلان سره سم حرکت وکړي. که څه هم امريکا غواړي چې د يمن په حکومت کې حوثيانو ته ونډه ورکړي، خو حوثيان دا مني چې سعودي عربستان به د يمن په موضوع کې بريا ته ورسيږي. سره له دې چې امريکا متحده اياﻻت هڅه کوي، چې حديده او سنا کې چې د امريکا لپاره سرې کرښې دي، پر حثيانو باندې د بريتانوي غلامانو، د هادي او متحده عربي اماراتو مرګونو بريدونو مخنوی وکړي، خو بيا هم نه غواړي، چې دا ډله په يمني حکومت کې مشروعيت ولري، ځکه چې د دې ډلې په ځواکمنتيا سره، په عربستان کې د امريکا غلام ته په ګواښ بدليږي. له همدې امله امريکا هڅه کوي، چې د پيسو او زبرمو په زور خپلې موخې په سيمه کې تعقيب کړي. په دې ډول د يمن پارلمان د هادي ولسمشرۍ تر سيوري لاندې په رسميت پېژندل د سعودي عربستان په ګټه دي او په دې ډول په يمن کې خپلې جګړې ته مشروعيت ورکولی شي. دا هغه څه دي چې په يمن کې د امريکا او بريتانيا دريځ په دې بهير کې څه ناڅه سره ورته ليدل کيږي، خو په واقعيت کې د انګليس او امريکا شخړه هغه وخت را بربنډه کيږي، چې بريتانيا او د هغه غلامان په يمن کې په نظامي حللارې لاس پورې کوي، مګر امريکا، ورسره د بشري وضعيت پر بهانه مخالفت کوي.

امريکا په رښتينې توګه غواړي، چې په يمن کې جګړه پای ته ورسوي، ځکه چې د هغې غلام سعودي له شرميدونکي حالت سره مخ دی، په داسې حال کې چې حوثيان د «ستوکهولم» له هوکړې څخه په ګټه اخيسته خپل غږ پورته کوي او د سياسي حللارې له مخې د ډېرې ونډې غوښتنه کوي. خو بريتانيا د نظامي حللارې له ګواښ څخه خپله ګټه پورته کوي. دا هغه څه دي چې ملګري ملتونه،

چې د څلورو میاشتو اوږدې مودې لپاره د «ستوکهولم» هوکړې ته په تمه وه، اوس حوثیان د دغې هوکړې په عملي کولو کې ګرمه بولي، چې د دې هوکړې لومړی پړاو چې نظامي یووالی دی، په څو راتلونکو ورځو کې به پیل شي، چې د یمن لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي مارتین ګریفیدس هم په دې اړه خبرې کړي.

اې د یمن خلکو! اې د ایمان او عقل خاوندانو! د انګلیس او امریکا شخړې ستاسې هېواد کمزوری کړ، ستاسې زامن یې در ووژل، ستاسې ویاړ یې له منځه یووړ او تاسې یې له لوږې او بدبختۍ سره مخ کړئ، نور به تر کله د هدیرې په څېر خپلې چوپتیا ته ادامه ورکوئ او پر اشغالګرو ملګرو ملتونو به تکیه کوئ، ترڅو ستاسې ستونزې حل او اور او ګولۍ زیاتې کړي؟ ستاسې د ستونزې یوازینۍ حللاره دا ده چې د خپل رب، الله سبحانه وتعالی شریعت ته په کار کولو سره راشده خلافت تاسیس کړئ، چې هم د دنیا او هم آخرت ګټه پکې نغښتې ده.

**حزب التحریر-ولایه یمن مطبوعاتي دفتر**

**ګڼه: HTY-1440/15**

**۱۴۴۰، د شعبان مه**

**۲۰۱۹، د اپریل ۱۷مه**